دا يو شيطان دی چې خنزب ورته ويل کيږي، نو کله دې چې حس کړ، له هغه څخه په الله پناه وغواړه، او چپ لوري ته دې درې ځلې تو کړه

د عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه څخه روایت دی چې: هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل: اې د الله رسوله، زما او زما د لمانځه او زما د قرائت تر منځه شیطان مداخله وکړه تر څو یې راباندې ګډود کړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: « دا یو شیطان دی چې خنزب ورته ویل کیږي، نو کله دې چې حس کړ، له هغه څخه په الله پناه وغواړه، او چپ لوري ته دې درې ځلې تو کړه»، وایي: دا کار مې وکړ، نو الله تعالی راڅخه لرې کړ.

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى او ويې ويل: اې د الله رسوله زما او زما د لمانځه تر منځه شيطان مانع ګرځېدلى دى، زه يې په لمانځه کې له خشوع او عاجز څخه منع کړى يم، او قراءت يې راباندې ګډوډ کړى، او په لمانځه کې يې شکي کړى يم. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: دا هغه شيطان دى چې خنزب ورته ويل کيږي، که دا مو وموند او احساس مو کړ، نو الله تعالى دې ملاتړ وګرځوه، او په الله تعالى ترې پناه وغواړه او چپ لوري ته دې د لږو لاړو سره درې ځلې تو کړه، عثمان وويل: هغه څه مې وکړل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې راته امر کړى، نو الله تعالى راڅخه لرې کړ.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65105